# Greater Manchesterکې په پناه غوښتونکو هوټلونو کې اوسېدونکو خلکو ته یو پیغام




موږ هغه رضاکارانه او ټولنیز بنسټونه یو چې په Greater Manchester کې فعالیت کوو. موږ دا لیک درته ځکه کوو چې ووایو تاسو زموږ په ټولنو کې ښه راغلاست یاست. موږ پوهېږو چې کېدای شي تاسو خپله خوښه نه وي کړې چې Greater Manchester ته راشئ، خو هیله لرو چې تاسو به دلته ځان خوندي او ډاډه احساس کړئ، او دا ځای به ستاسو لپاره د کور په شان شي. په ټول Greater Manchester کې داسې اداري او ډلې شته چې د پاملرنې، یووالي او هیلې سره به ستاسو ترڅنګ ولاړې وي.

- موږ پوهېږو چې د اوږدې مودې لپاره په هوټل کې ژوند کول ډېر ستونزمن او کله ناکله ناخوښه تجربه کېدای شي. موږ درک کوو چې کېدای شي دا ځای تاسو ته د کور په شان احساس در نه کړي.
- موږ پوهېږو چې له بده مرغه ځینې خلک کېدال نه خوښوي او د پناه غوښتونکو د هوټلونو په اړه ناسم معلومات خپروي. موږ درک کوو چې دا کار کېدای شي تاسو ناامنه احساس کړي.
- موږ پوهېږو چې د پناه غوښتنې پروسه وېرونکې کېدای شي. موږ درک کوو چې د Home Office له خوا ستاسو سره د اړیکو طریقه کېدای شي سخته او ناخوښه احساس شي. همدارنګه موږ پوهېږو چې د دې پروسې پر مهال د ملاتړ لپاره د وکیل (solicitor) پیدا کول څومره ستونزمن دي.



**موږ غواړو تاسو پوه شئ چې په دې ستونزمن او نامعلوم وخت کې موږ ستاسو ترڅنګ ولاړ یو او له تاسو سره خپل یووالی څرګندوو.**

موږ هم غواړو تاسو پوه شئ چې هغه خلک چې دښمني او کرکه څرګندوي، ډېر لږ دي — هغوی زموږ د ټولنو استازیتوب نه کوي.

**تاسو دلته زموږ د ټولنو د غړو په توګه ښه راغلاست یاست.**

مرستې ته اړتیا لرئ؟

| | |
|---|---|
| **د ځایي خدماتو موندل – کمپاسي:**<br>https://www.kompasi.org/ | **د خپل ځان د خوندي ساتلو په اړه معلومات ترلاسه کړئ – Hope not Hate:**<br>https://hopenothate.org.uk/wp-content/uploads/2024/08/NEW-FINAL-staying-safe-amidst-far-right-activity.pdf |
| **د پناه غوښتنې د پروسې په اړه معلومات ومومئ – د پاتې کېدو حق لاربېنود (Right to Remain Toolkit):**<br>https://righttoremain.org.uk/toolkit/ | **ایا غواړې رضاکار شې؟**<br>https://manchestercommunitycentral.org/volunteer-centre-manchester |

**د هغو سازمانونو نوموونه وګورئ چې ستاسو سره همغږي (همدردي/ملاتړ) لري:**
https://gmiau.org/solidarity-statement-asylum-hotels